ورځپاڼه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ٤١مه گڼه پرله پسې (٤٢١) چهارشنبه د١٤٢٢ هـ ق کال دربیع الاول ٢١
د١٣٨٠ هـ ش کال دجوزا دمیاشتې (٢٣) د٢٠٠١ میلادی کال دجون ١٣

الهی فرمان

بیا مو له هغوی وروسته، تاسې دځمکې واکمن وگرځولې، نو گورو به چې څه کوئ » یونس ١٤

دجنوبی افریقې دعالمانو پلاوی داطلاعاتو او کلتور له وزیر سره په کتنه کې:

دجنوبی افریقې مسلمانان داسلامی امارت تودهرکلی کوی

کابل:
داطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال پرون له غرمې وروسته دخپل کار په دفتر کې دجنوبی افریقا دېنی دعالمانو له هیأت سره وکتل.
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ: په دې کتنه کې لومړی د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر په افغانستان کې دروانو بدلونونو او داسلامی امارت دهغې تگ لارې په باب چې داسلامی قوانینو او اصولو په چوکاټ کې طرحه شوېدي او دتحقق او عملی کیدو په حال کې دی خبرې وکړې.
وروسته، دهغه هیأت رئیس داطلاعاتو او کلتور له وزیر سره دکتنې له امله دخوښې دڅرگند ولو په ترڅ کې وویل: دجنوبی افریقا خلک او په تېره بیا ددغه هیواد مسلمانان په افغانستان کې داسلامی امارت دټینگښت تود هرکلی کوی او دغه شان ستره پېښه چې په افغانستان او نورو اسلامی هیوادونو کې د سولې او ثبات او دمسلمانانو دیووالی د ټینگښت په گټه دی گڼوره ویلله او په افغانستان کې داسلامی امارت دستنود لازیات ټینگښت غوښتنه کوی.
وروسته دهیأت ځینو غړو
٤مخ

.از مساعدت شیخ ابراهیم « سلومی »

(٨٠٠)خانواده نیاز مند درکابل مستفید گردید

کابل – شریعت
هلال احمر عربستان سعودی برای ٨٠٠ خانوداه نیاز مند درشهرکابل مساعدت نمود.
خبرنگار ما درزمینه به نقل از
ص٤

اروپایی ټولنه وچکالی ځپلو سره مرسته کوی

بروکسل: داروپا ټولنې دافغانستان له قحطی ځپلو سره دد یارلسو ملیونو یورو په ارزښت بېړنی مرستی منظور کړېدی. تاکل شوېده دغه مرستې دمهاجرینو په کمپونوکې پرافغانی مهاجرینو وویشل شی.

سرک پغمان ـ سرخ پارسا ترمیم ومورد استفاده قرارگرفت

کابل:
به طول سی کیلو متر سرک بین ولسوالی پغمان ولایت کابل الی ولسوالی سرخ پارسای ولایت پروان ترمیم ومورد استفاده قرارگرفته است.
آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد.
سرك متذکره که دراثر بارنده گی های سال گذشته غیر فعال گردیده بود به اثر توجه مسوولین امارتی ولسوالی سرخ پارسا به
ص٤

په افغانستان کې دډبلیو.اف، پی دفعالیت ددوام په اړوند

دپلان وزارت مطبوعاتی بیان

د مستحقینو سروی د ملاامامانو، دسیمې دوکیلانو او سپین ږیرو په واسطه هم ترسره کیدای شی

دروغ ستونونو سپړنه کارکوونکی هم داکار کولای شی

دسروی په اړه دډبلیو اف پی مسوولین موجه دلیل نه لری

کابل:
په افغانستان کې دډبلیو اف پی موسسې دفعالیت ددوام په اړوند دافغانستان داسلامی امارت دپلان وزارت مطبوعاتی بیان.
دافغانستان اسلامی امارت هیڅکله دنړیوالو خیریه موسسو او دملگرو ملتو په سازمان پورې اړوندو ادارو دفعالیت په لاره کی کومه ستونزه نده پیدا کړې بلکې تل یې له هغوی سره همکاری کړیده. او خلکو ته دخدمت او دهغوی دارتیا وو دله منځه وړلو په لاره کې یې داسلام دمبین دین داصولو او
٤مخ

دفاتحی اعلان

دهیواد دعلمی او جهادی شخصیت ارواښاد مولوی محمد شاه فضلی فاتحه دهیواددعلمی او جهادی شخصیت محترم مولوی محمد نبی محمدی لخوا دروان هجری قمری کال دربیع الاول دمیاشتې په ٢٢ نېټه دپنجشنبې دورځې دسهار له اتو بجو څخه دغرمې تر ١٢ بجو پورې دکابل ښار دوزیر محمد اکبرخان په جامع جوماتِ کې اخیستل کیږی.

هم اکنون حدود ٣/٧ ملیون افغان درمهاجرت به سر میبرند

کابل – شریعت:
هم اکنون از مجموع تقریباً ٢٤ ملیون نفوس افغانستان حدودسه ملیون و هفتصد هزار آن درکشور های اروپایی، آسیایی وامریکایی بسرمیبرند.
خبرنگار ما درزمینه چنین گزارش میدهد: از آنجا ئیکه ریاست عمومی
ص٢

آنجا که دوا نیست

کابل – شریعت
دیریست که کارگران حوزه تولید برق کابل (ماهیپر، نغلو، سروبی) ازنعمت کمك های اولیه طبی محروم بوده و سالانه ٥-١٠ نفر از این کارگران از اثر حادثات ناگوار برق جان های شان را از دست میدهند.
ص٤



عکس: نمایی از تعمیر وزارت آب وبرق و کلینیك مرکزی آن عکاسی یوسف

دفیض اباد دهوایی ډگر ترمیمولو په مقصد دری تنه هندی انجنیران گمارل شوی دی

وحدت ورځپاڼه:
دافغانستان په کورنیو چارو کې دلاس وهنې او دبشپړې سولې او امنیت د نامینډو په لاره کې دخنډونو د رامنځته کولو او کړکیچ او تاوتریخوالی ته دلمن دهلو په دوام په دې وروستیو ورځوکې دهندوستان په هیواد پورې اړوند دری تنه انجنیر ان دبدخشان ولایت ته رارسیدلی او دخپلو مغرضانه اوله
٤مخ

میوند جاده دودانی او سمبالښت په لور

کابل شریعت:
میوند هغه جاده ده چې دکابل ښار دېره لویه تجارتی سیمه تشکیلوی خو بدبختانه چې په تیرو جنگونو کې ترهرځای دېره ورانه او له خاورو
٢مخ

دغزنی ولایت دبریښنا رسولو له تاسیساتو څخه کتنه

غزنی
داوبو او بریښنا محترم وزیر پرون دغزنی ولایت دبریښنا رسولو تاسیسات وکتل.
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ:
داوبو او بریښنا وزیر محترم مولوی احمد جان دغزنی له
٤مخ

له پاکستانی هیئت سره دمهاجرینو او سوداگرو مشکلات وڅیړل شول

کابل:
دافغانستان داسلامی امارت دبهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبدالرحمن زاهد پرون له غرمې وروسته دپاکستان داسلامی جمهوریت له پنځلس کسیز هیأت سره وکتل.
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ: په دې کتنه کې چې دافغانستان داسلامی امارت او
٤مخ

کابل ښاروال له وکیلانو او کاروباریانو سره وکتل

کابل:
کابل ښاروال محترم مولوی حمد الله نعمانی پرون دکابل ښار له بیلابیلو اصنافو او دگذر له وکیلانو سره وکتل.
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ. په دې کتنه کې محترم کابل ښاروال خلکوته دخدمت او دارتیا ور لو مړنیو
٤مخ

دگرشک د بریښنا فابریکې یو بل توربین هم فعال کړی شو

هلمند:
دهلمند ولایت دگرشک ولسوالی دبریښنا دفابریکې یو توربین له ٢٢ کلونو وروسته بیا فعال او گټی اخیستلو ته وراندې شو.
دغه توربین دیو پخوانی توربین ترڅنگ د١٥٠٠ کیلو واټو په ظرفیت ددری زره کیلو واټو بریښنا دتولید ظرفیت لری.

مجتمع ورزشی شعاع پنجاه ساله شد

کابل -شریعت:
پنجاهمین سالروز تاسیس مجتمع ورزشی شعاع طی مراسم با شکوهی تجلیل گردید.
این محفل که حوالی ساعت دونیم عصر دیروز آغاز گردید ابتدا به گرامیداشت از ماه میلاد مسعود سرورکائنات حضرت محمد مصطفی «ص» ختم قرآن عظیم الشأن صورت گرفت بعداً سخنرانان
ص٤

مجله قضا باقطع وصحافت زیبا از چاپ برآمد

کابل – شریعت:
مجله قضا نشریه ماهوار ستره محکمه بعداز وقفه طولانی با قطع وصحافت زیبا از چاپ برآمد.
دراولین شماره این مجله که مزین به
ص٤

دیوه امریکایی په وژل کیدو فلیپین له کړکیچ سره مخ شو

مانیلا: دفلیپین ددولت دمخالفو چریکانو لخوا دیوه امریکایی یرغمل وژنې ددغه هیواد دولت له کړکیچ سره مخامخ کړیدی دارسیدلو خبرونو له مخې دچریکانو لخوا ددغه تکې داعلامولو په تعقیب چې یو امریکایی یرغمل نیولی دی دفلیپین جمهوره رئیسه میرمن گلوریا اریو په پرون خپله کابینه راوغوښته او دهغوی بیرونو په باره کې خبرې اترې وکړې چې باید ددغې پیښې په وړاندې ونیول شي.

د١٤٢١ کال په بهیرکې: دکابل مستوفیت دعواید وارقام

عکس: دکابل مستوفیت د ودانی بوځنده یوسف عکاسی

کابل – شریعت:
قدرمنو لوستونکو! ستاسی پام هغې مرکې ته راگرځوو چې زمونږ خبریال دکابل مستوفی مولوی خالق داد «حقانی» سره کړېده: په پیل کې محترم
٢مخ

سرمقاله

دلوي او ښيونکي خداي(ج) په نامه

افغان مهاجرین دپاکستان کورنی امنیت ته تهدید وی

دریو تیرو لونو له مخې پاکستانی واکمنو په خپل هیواد کې دغیرقانونی وسلو دراټولولو فیصله کړې چې په دې لړکې دافغان مهاجرو دکمپونو پلټنه هم په نظر کې لری، داچې دپاکستان حکومت په څه دلیل دی کارته اړشوی یوازې په هغوی پورې اړه لری.
مگر هغه څه چې دافغانستان اسلامی امارت ته اهمیت لری، په پاکستان کې دافغان مهاجرینو پلټنه ده، چې باید پاکستان په دې اړه له احتیاط نه کارواخلی په دې کې شکه نشته چې ښایی یو لړ شمیر افغان مهاجرین به دخپل ځانی امنیت لپاره څه
٢مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسوول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
تیلیفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات : ۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸۵ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي ۷ مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

اندازه وسله ولری خو داهم یو ښکاره حقیقت دی چی نوموړی وسلی هیڅکله هم دپاکستان کورنی امنیت نه ګواښی ، اوتر اوسه د بیلګی په توګه هم څه داسی پیښه منځ ته نه ده راغلی چی هلته دی له دی پلوه حکومت ته څه ستونزی جوړی شوی وی دپاکستان حکومت باید دی ته متوجه وی چی هلته میشته مهاجرین په غوڅه توګه مجاهد خلک دی ، او دجهاد په سربښندنو کی یی ډیر مهم رول درلودلی دی ، نواوس که دکوم مهاجر په کورکی څه وسله وی ، خامخابه له روسانو لاس ته راغلی ولجه وی ، چی داخالص دهغوی خپل ملکیت ګڼل کیږی نو داچی افغان مهاجرین په دغو وسلو سره یوازی او یوازی خپل پت او عزت ساتی نه داچی کوربه هیواد ته څه ستونزی او امنیتی کشالی جوړی کړی نو که پاکستان بیا هم له دی پلوه اند یښنی لری په کـــارده چی په دی هکله دمهاجروسپین ګیری او مشران په اعتماد کی واخلی او دغی مسألی ته یو مناسب حل راوباسی ، داهم باید وو ایو چی نوموړی وسلی په هر صورت دمهاجروخپل ملکیت دی نو که احیاناً دپاکستان حکومت ته په لاس ورځی ضر وري ده چی تربیا ستنید وپوری دامانت په ډول ورته وساتل شی ، نه داچی دتل لپاره ضبط شی .

دافغانستان اسلامی امارت چی دافغانستان او پـــاکســـتان دواړو ورونوهیواد ونو دتاریخی ، دینی او کلتوری اړیکو دلاټینګیدو غو ښتونکی دی ، تل هڅه کوی دښمن ته داسی فرصت په لاس ورنـــه شـــی چـــی ددواړو ولســـو نـــو تـــرمنځ دخـــوابدی او ناوړه تفاهم سبب او یاد کـــوم تاو تریخوالی لامـل وګـــرځـــی نو په دی اســـاس لازمه ده چـــی دپاکستان چارواکی دمـــوضـــوع نـــزاکـــت په پام کـــی ونیســـی او په دی اړه لـــه څیرکتـــیا او حکمت سره سم مناسب ګام واخـــلی .

هم اکنون حدود ۳٫۷ ملیون افغان در...

احصائیه مرکزی ، نفوس تخمینی افغانستان را درسال ۱٤۲۲ قمری ۲٤ ملیون نفر به اساس نشریه سالانه خویش بنام « نفوس تخمینی افغانستان » که درآن نفوس کشور هر سال مطابق اصول ومعیارهای احصا ئیه بین المللی سنجیده میشود اعلام داشته است کمیساری عالی ملل متحد در امور پنا هندگان نیز همزمان بانشر این اعلام یك احصا ئیه دقیق بین المللی درقبال مهاجرین وپنا هندگان بیرون مرزی افغان انجام داده که درهفتم می ۲۰۰۱ میلادی طی یك راپور توحیدی از جانب آن کمیساری بدست نشر سپرده شده است . شاغلی یو شیاکی یماماتو مسؤ ل دفتر کمیشنر ی عالی ملل متحد درکابل پیرامون جزئیات این راپور میگوید ؛آخرین امار راجستر شده درقبال مهاجرین و پناهند گان افغان نشان میدهد که هم اکنون حدود سه ملیون وهفتصد هزار افغان به تفکیك آتی درکشور های آسیایی ، اروپایی وامریکایی بسرمیبرند: درایران ۱٫۵ ملیون ، درپاکستان ۲ ملیون ، در هند ۱۳۰۰۰ ، در روسیه ۱۰۰۰۰۰ درکشور های آسیای میانه ۲۹۰۰۰ ، در کشورهای اروپای ۳۶۰۰۰ ودر امریکا وآسترالیا ۱۷۰۰۰ افغان یادداشت گردیده است شاغلی یماماتو می افزاید؛ این احصائیه نشان میدهد که افغانان این رقم مهاجرت را خارج از کشور شان که ٦ ملیون و دوصد وبیست هزار نفر را احتوا میکرد درسال ۱۹۹۰ میلادی متقبل شده بود درراپور کمیشنری عالی ملل متحد تعداد بیجا شدگان داخلی افغان نیزطور دقیق سنجیده شده ودرین قسمت تذکر رفته است که همین حالا تعداد مجموعی بیجاشدگان داخلی افغان که از اثر خشکسالی ووضع تعزیرات از یك شهر به شهر دیگر نقل مکان نموده اند به ششصد هزار نفر میرسد .

مهربان

داسلامی نړی طبابت ته لنډه کتنه (۳)

پوهاند عبد الحی مؤمنی

سم . یو . دالا د «زردشتیانو تمدن» په کتاب کې د طبیب کیدلو اړوند مسایلو په هکله د زردشتیانو په وخت کې داسې لیکي : « اساسي شرط یو دا ؤ چې سړی باید د طبابت علم په دقیقه توګه زده کړی وی ، هغه باید د مطالعې څیښتن او ښه حافظه ولري ، د طبابت حرفې سره علاقمندي او ډیره تجربه یې په دې برخه کې حاصله کړې وي ، دغه سړی (طبیب) باید په ډیره حوصله مندي د ناروغ خبرو ته غوږ کیږدي ، د ناروغ له درد سره نا راحته شي ، د نا روغ له ټولو اعضاؤ او د هغو له فعالیت او کاره معلومات ولري ، په خیر کتنیایي درملنه وکړي ، خوږژبی ، ملایم ، مهربان او د ناروغ جوړیدو ته لیوال وي او په آخر کې د خپلې دندي شرافت ته مؤمن اوسي ، هغه د پیسو او مادي نفعې د پاره کار ونکړي او دخدای «ج» نه وداریږي ... »

اوبستا لمړ د پاکوالي قوي شی ګڼي ، وایي چې د لمړ وړانګي یې ټولو موجوداتو ته پاکوالي بخښي او د تطهیر لپاره یې له مشیازو کار اخیستل کیده .

د اوبو په هکله لیکي ترهغه چې د انسان یا حیوان جسم په کوهي یا جاري (سیند) اوبو کې موجود وي اوبه یې د مصرف لپاره مناسبې نه دي . د دې لپاره چې د کوهي اوبه مساعدې شي باید لومړی جسد او بیا یې تیمایي اوبه له کوهي نه وویستل شي .

او که جسد په سیند کې پروت وي تر دري قدمه لاندې ، نهه قدمه باندې (پاس) او شپږ قدمه ښي او چپې خوا ته اوبه یې د څښلو وړ نه دي .

همدارنګه په مقرراتو کې د اوبو پاکوالي ته جدي پاملرنه شوي وه او هیچا حق نه درلود په اوبو کې څه شي واچوي او که کوم شي په اوبو کې ولیدل شي د هر چا وظیفه ده چې باید را وېې باسي .

یو د طبیب چې خپل موزني ښار کې تحصیل خلاص کړي ؤ مجبور نه ؤ چې هملته پاتې شي بلکې دوی به له یوه ښار نه بل ښار ته مسافرت کاوه او ناروغان به یې تداوي کول هغه شیان چې دوی دخان سره ګرځول دومره ډیر نه ؤ . یا ارزښته شي هغه ظرف ؤ چې یوه دوا د هانوم په نامه هغه کې جوړیده . هانوم یوه مقدسه ګیاه وه چې د ډیرو مرضونو لپاره ترې کار اخیستل کیده .

په افغاني او هندي تکلونو کې هم داسې یوه دوا شته چې سوما (رب) په نامه یادیږي . ظاهراً دغه دوا مخدر او سکر راوړونکې وه چې ددي په واسطه به ناروغ ځان خپل خدای ته نږدې کاوه .

د زردشتیانو د دورې په آخر کې یو بل معجون هم له دې ګیاه نه جوړیده چې سپین رنګ یې درلود مګر پخوا یې زیر رنګ درلود . په کتاب کې داسې ویل شوي دي : «له دغې دوا نه د قیام (پاڅون) په ورځ باید ګټه واخیستل شي هغه ورځ چې ټول مړي د هغې په واسطه ژوندي کیږي » .

بله آله یوه وړوکې متروکه د هغو خلکو د تنبیه لپاره وه چې حفظ الصحوي مقررات یې نه ؤ مراعات کړي او همدارنګه ددې په ذریعه به یې پیریان او دیوان د ناروغ له بدنه ایستل .

برسیره پردې یو چاکو او د لاس لرګی (عصا) به هم طبیب سره ؤ ترڅو د مار او موږي موجوداتو نه ځان وژغوري .

طبیب د تداوي او مذهبي مراسمو په وخت کې یو زوړ کې په خپل سر اچاوه چې دا یو ته له ماسک سره ډیر شباهت لري او جراحان یې نن ورځ د جراحي په خونه کې کاروي .

همدارنګه یو لړ نور مقررات لکه د طبیب د کار طریقه ، د معایناتو اجوره ، د معاینې وختونه ، ناروغ ته رسیدل او داسې نور د قانون له خوا دقیقاً تعین شوي ؤ ، مګر طبیب باید کافي غذا وخوري ، مناسبه جامه اوښه آس ولري .

د اجوري اندازه د ناروغي شدت د بیمار ضعیف والي یا د طبیب شهرت پوري اړه نه درلوده بلکې د ناروغ اجتماعي وضع او د هغه په شتمني پوري یې ارتباط درلود . د بیلګې په توګه والي څلور غوايي .

ښاروال یو آس یا یو اوښ او معمولي سړی یو پسه حتی یو چرګ ورکاوه .

له یو شمیر استادو نه جوتیږي چې د منځنی ایشیا لرغونی طبابت له آثوریانو ډیر پرمخ تللی ؤ او له منطق نه لرې نه ده چې یوناني طبابت به د همدې ځای خلکو (منځنی ایشیا چې افغانستان هم یکې دی) یونانیانو ته ښودلی وي .

افغانستان د سکندر او یونانیانو راتګ ډیرو شیانو ته تغییر ورکړ ، په دې ترتیب دواړو تمدنونه سره یو ځای شول او علم او فرهنګ رشد وکړ ، په دې لړ کی طب او طبابت هم د دغو تغییراتو تر تاثیر لاندې راغی .

هغه یونانیان چې په افغانستان کې د سکندر د شړلو څخه وروسته پاتې شول کورنی یې تشکیلی کړی او هملته میشته شول چې هرو مرو طبیبان هم ددوی په جمله کې شامل ؤ چې د طبابت او دواجوړولو کار یې مخ ته بیوه . له همدې کبله محلي طبیبا ن زموږ په هیواد کې د یوناني طبیب په نامه یادوي .

پاتې لري

مهوند جاده دودانی او ...

سره خارجي شوی ده . که دمیوند جادې ودانی منظری وګورو نو اوسنی جاده به ونه پیژنو ځکه چې اوس هغه خوږ زیږی ودانی او روښانه څراغونه په سترګو نه ښکاریږی خو له هغی ورځی راپدی خوا چې په کابل ښارکی خپل منځی جګړو چور او چپاول ته دپای ټکی ایښــودل شوی نو په میوند جاده کی هم دبیا رغونی کارونه پیل شوی دی چی یو له هغو نه دپښتني تجارتی بانک لپاره یوه شپږپوړ بیړه ودانی او دحاجی ګل«خوشی» پنځه پوړ بیزمارکیټ اوداسی نور هوټلو نه دترانسپورتونو نماینده ګی او نور ډول ډول دکانو نه یا دولی شو موږ ددغی جادې له څینو دکاندارانو او په کاربوختو خلکو سره خبری کړیدی چی ستاسو په ورته راګرځوو لـریه چی د لوښــو دکــان لری موږ ته یی داسی وویل :

زه له یوه کاله راپدی خوا دلته دکانداری کووم خو له یو لړ ستونزو سره مخامخ یم هغه داچی ددوکانو مخته به لوی لوی موټرا و ، غرفی دسړک په منځ کی خلکو درولی چی دابی نظمی ډیر وخت دموټر و دټکر سبب هم ګرځیده او زموږ ددکانو مخه هم بیخی بنده وه . خو دکابل ښاروالی له خوا داستونزی تولی لری شولی او موږ اوس ډیر خوښ یو .

نورمحمد یکسی چلوونکی هم دښاروالی له کارو نو خوښی څرګنده کړه . ده وویل : موږ اوس په ډیر ډاډ سره خپله موټروانی کوو او دترافیکی پیښی هیڅ ډار راسره نشته . خوبو سپین ږیری چی تر سترګوبی او سکی څځیدی داسی وویل : موږ څه وکړو نوره سرمایه ته لرو چی دوکانداری وکړو کورنی می هم پنځه کسه ده زه دلته په یوه لاسی کراچی کی څه پرچون مال خرڅوم خوکله مو ترافیک په لرګیو وهی او کله مو هم ښاروالی موږ نه پوهیږو چیرته ولاړ شو ؟ له دی ځایه په روانید ومی څونفـــره ولیدل چی دکراچی وانانو په تیله کرلوا او شړلو بوخت و یوه لرګی په لاس سړی ته می وویل :زه دشریعت ورځپاڼی خبریال یم هیله ده چی تاسو هم خپل ځان معرفی کړی .

زما نوم ملا محمد انور مفکر داولی ناحیی مسؤول چی ددی ځای دپاکولو لپاره هرورځ کراچی وانان شړو خوچی سبا راځو دی لوی بیـ راغلی وی . ما دده خبری وریــریکـړی او ورتــه ومــی ویـل دغوکراچیوته تاسی کوم بل ځای ټاکلی دی هو موږ دوی ته ویلی دی چی تاسی باید ولاړ شی دباغ علی مردان سیمی ته نور می د دوی لاســونه او دکــراچی وانانو ګریوانونه سره پریښـودل ، وروسته دمـــیـــوند ځلي لوبډیخ لورته دټر افیـک غـرفی ته ورنـږدې شوم او فلسه می له ســتمن فیض الله نه ددغو ستونزو په اړه پوښتنه وکړه هغــه داسی راته وویل : موږ له ښاروالی سره یو ځای دښار په منظمـو لوکی مرسته کړیده هغه داچی دکـارتـه نو مــوټروان دمــوټر بختی سرای ته او دارزان قیمت بګرامیـو ، کلاچی ، شیوکیـو او دچهار آسیاب اډی موټرولی دبارانه کـوڅی ته لیـږدولی دی نوموړی دکراچیو دستونزو داساسی حل په اړه داسی وویل : باید اســـلامی امـــارت د پروژو او کـــار خـــانو په جـــوړولـــو ســـره ټولو خلکو ته کارپیدا کړی ترڅو زموږ هیواد وال له ستونزو بیغمه شی .

محـــمـــد رفـیق « عـزت »

د ۱٤۲۱ کال په بهیرکي دکابل مستوفیت...

مستوفي داسې وویل : په ۱٤۲۱ هـ ق کـــال کې په انفرادي ډول مستوفیت یو ملیارددری سوه نهه او یا ملیونه دوه سوه څلو راتیا زره څلو رسوه اوو ء اتیا افغاني عواید ترلاسه کړیدي چې د ۱٤۲۰ هـ ق کـال په مقایسه اووه سوه درویشت ملیونه او وه سوه یواوبازره دري ســـوه دري پنځوس افغاني زیات والي ښیي .

دي زیاتـو ی چـی پـه ۱٤۲۱ هـ ق کـال کې پنځه سوه دري نوي ملي سوداګر له موږ سره ثبت او راجستر شوي دي ٦٥ انفرادي تاجرانو موږ نه دفعالیت بلانسونه ښودلي دي او ۳۲۸ نورو تاجرانو دنه فـعـالـیت پلانســـونه ښـودلي دي په ۱٤۲۱ کال کې ۲۰۰ انفرادي تاجرانو په هیواد کې دداډمن امنیت له امله خپل جواز ونه ثبت کړیدي .

په ۱٤۲۱ کـــال کې دکوپراتیف دانتقال مالیه دوه نوي ملیونه اووه سوه دري زره اته ســـوه اتلس افغاني مستوفیت ته ورکړ شوي دي . همدارنګه دکابل مـــســـتوفیت او داړ وندو شعباتو دهڅو او هاند او دملي سوداګرو دتشویق او فعالیت له امله په ۱٤۲۱ کال کې زموږ راټول شوي عواید دمالیاتو،صکوکو دجایدادونو کرایه او دقیمت لرونکو او راقو له درکه یو سلو یو اتیا ملیارد ء شپږ سوه څلو ر ملیونه یو سلو دو ء ویشت زره اته ســـوه شپاړس افغاني عواید ترلاسه کړید ي؛

نو موري وویل :د۱٤۲۱ کال عواید دموسساتو له درکه د ۱٤۲۰ کال په پرتله څلویښت ملیار ده دودیرش ملیونه شپږسوه یو نو ی زره نهه سوه یونوی افغاني زیاتوالی راغلی دی .

محترم مستوفي زیاته کړه ؛ دکابل دګمرک عواید چی دمستوفیت له لاری نه دمالیی وزارت ته راپور ورکول کیږی د ۱٤۲۱ کال عواید شپږسوه اووه ویشت ملیارده پنځه دیرش ملیونه یوسلو اتیازره اووه دیرش افـغـانی کیږی د ۱٤۲۰ کـــال په پرتله اته شپیته ملیارد ء یو سلو یو پنځوس ملیونه شپږسوه اته دیرش زره اوسل افغانی زیاتو الی را غلی دی .

په پای کی نوموړی زیاته کړه : په ۱٤۲۱ کال کی یو سلو اوو ء ملیارده دوه سوه پنځه اویاملیونه دری سوه او دری پنځوس زره څلورســوه شپـږ اویاافغانی مصارف دکابل مستوفیت له لاری اجرا شوی دی چی د ۱٤۲۰ کال په پرتله نهه شپیته ملیارده اته سوه شپږ پنځو س ملیونه اته سوه پنځه نوی زره څلورسوه شپږ افغانی زیاتوالی راغلی دی چی دزیاتوالی علت یی دقـومـاندانی ، دزون دعلما و ، دولایت مـعـارف او دمامورینو دمـاکول دزیات والی له وجی په کی زیاتوالی راغلی دی .

حمید الله «عالمی »

چـــی کـــشور دافـــغـــانانو معطر کا
دهربیت مصرع می زلفی دخوبان کړی

دشعر او ادب نړۍ

برای زن افغان

محمدحکیم «نظری»

زن افغان که با ایمان مرام است
خدا «ج» گفته محمد «ص» کرده تبلیغ
اگــر شو هر نـباشد زن بداند
تن خود را بپو شان خو اهرمن !
زن وشوهر به هم پـوشاك جان اند
بکن ! آرایش سیرت نه صورت
بتن بتما ! لـباس موددیترا
فساد وغیبت وتهمت بکن دورا
به زهرا بی بتول عادت بـگــیرید !
نه از شرق ونه از غـرب کـرده تقلید
بکوش ! برکــسب علم ودانش خود
مرویبجای ! هـردم ســوی بازار
الهی کــن هدایت آن زنی را !

حقوقش در کتاب حق تمام است
از این بگذشته هر چیز است حــرام است
که این راز ها چوایام صیام است
تراگر حفظ اخلاقت مـرام است
زنان را بهر شوهر احــترام است
مزن ! بر چهره ات رنگـی که خام است
نه زان مودی که تیتانیك نام است
که راه میروی سوی ظلام است
ترا گرشفقت اش درقیدکــام است
که رسم کافران بالکل حرام است
به نزد محرمیکه درکــلام است
کـه بازار شما ، پرازدحام است
که بیچا در ســتاده روی بام است

«نظری» خــــسته کن گردید شعرت
عزیزان ! اندرینـــجااختتام است

د مینې سلګۍ

خپلواک ساپی

وله بنه می وله ، بی اســـری پـــه کـانو وله ما
بی له دی یم سکو ر ، چی شم ایری په کانو وله ما
زه هماغه بخت یم چی دسر سیوری می غلو وړی
نوردی منت نه وړم بی پـــردی پـــه کانو وله ما
دغه کانی سل ځلی زمـا پـــه ســـروار شوی دی
ته هم لکـــه نـــور ددی کـــوڅی په کانو وله ما
څـو بـــه مقـــتلو ته او نیتی راته دمرګ ټاکی
بس همداګری آشـــنا دلـــی پـــه کـانوولـه ما
ونه میـوه داره همـــیشه پـــه ســـرډبری خوری
حـــشو مره چی دی وس وی ترهغی په کانو وله ما
صبرمی په خدای دی خبرکه مینه شوه سلګۍ سلګۍ
یاره بی وفا بنه پـــه مـــزی پـــه کانو و له ما

دزړه پـــــوښتنې

په هغـــه تورتم کی چی غل او کاروانی نه پیژندل کیږی دحیات اوبه څه قـیمت لری ؟ هغه پوهه چی دشیطان له کوره وی هغه اودس چی د مظلوم په وینویا دیتیم په اوښکو کیږی ، هغه کتاب چی دناحقو دعوو دپاره یکی لاری لټول کیږی ، هغه ملګری چی ســـری له ځان ســره په کږولارو بیایی ...
څه یی وبولو ؟
کـوم ږوند چی دامـــــاپه ځای

تورو مارانو ته لاس اچوی ، کوم کوڼ چی خبره نه اوری اوورته خاندی ، هغه سپوږمی چی غلوته لاره ښیی او په مینو پسی ښا لو نه ګرزوی ...
څه په کار ؟
هغـــه لوی ســـړی چی دوږ ومرغانو په دام کی نښلی یادغښوپه جـــال کی بندیږی او دخـــوشـــامـــد ګرودتشی وینالـه اغـیزی ځان نشی خلاصولی څوک دی ؟
کـــوم زړه چی دا حـــساس په

اورکـېږي او داسوی په پټـه خـوله زغمی ، کوم فکر چی پخپل مخکی فولادی دیوالونه وینی ، هغه ترږی چی په اوبوکی وژونکی زهرګـــوری ...
دهغو په حال رحم نه دی په کار ؟
هغه کسان چی سترګی لری او ژبه نه لری ، په غوږو اوری او په زړه کی نه پوهیږ ی ، هغـه څوک چی دخپل کـورمـاران او لړمــان نشی وژلی ، هغـه کورو نه چی دزورور سیلاب پـه لاره کـی دی ایادرحـم او شـــفـــقـــت حق نلری ؟

توبه خدایه څومره ناپوه یم ؟!

فـــاروق

دوچکالي او څه تورو ناخوالو دلاسه بولي ټک ته کېناستم ، خپله او له پلرو ، نیکو راپاتي شتمني مي تولـه خـرڅه کـړه ، آخـر نه کـېدده غـلاو دروږ ي نه مي ملاوتړ له - چا وېل : ولي دلتـــه پـه کـابـل کي خـــو دبرانګرېزان او نور بهـــرنـبــان چي هواخــــوري ته راغلي ، بـــــه مـــالدارخلک دي او کـــه چاته بي خوښه شوه ، څه ورکوي هم ، زه هم ورغلم او په تولو راوګـرځېدم خـو خپلي شومي تالي را سره وي ، بوه هـم زري شـي رانـکـړ ، بوه بـه وېـل فندنشته ، بل به وېل پلان نه لرو !! بله

ورغ مي غـلاته زره نـبـه کـېږ ، وخت ناوختـه به مي بو شي کـورته ورساو خـو دسـاتني ځاي بي رانه ورک و ، چورت مي واهه چي کـه خلک راخبر شول نو ببا به بندي یي او قـاضي به دبرژر دلاس غـوڅولو فـیـصـلـه دربـاندي وکـړي ، بل وخت مي تـباره شپـه دځمکي په کیندلو پـېل وکـړ ، بو دوه ګـزه لاندي نوي شـبـان راووتل چي خبري مه کوه هرڅه مي بـه دبر راو وبـستل خو نه مـا پېژندل او نه مي

چا ملګري انډیوال چاوېل ســـره دي چاوېل سپین زبر ، الماس ، غـمي ... آخـر مي بو کـراکـتي سره خبره وکـړه هغه ووېل کـه خداي کـول ان لاهـور ته به بي درته ورســـوم ځکـه بـل ځاي داشيان نـه خرڅـېږي ، ماهم وېل څه نواوس خـود ي دبره دنـبـا ګـتلي د لاهور به څه خرڅ لګـېښت وي ، ولاړو اوبـښـه پـه خـوشـالي مـو اوړه ي لاري

لتدي کړي پـه اټـک کـي بي ونـېو لـو ، تاښدارو ، وېل : خـــان صاحب دامو څه پېري شروع کـري ؟ بندمـالونه راوړي ؟ لنډه داچي موږبي بندیان او مـال بي ضـبـط کـړ څوشپي وروســتـه مـو له خـپل ځاني خرڅ نـه لږ خاوري ابرې ورکړي ، جـبـبـونـه مـوټـک وهـل او پـه توډه شـپـه کي راوو تـوچي ابلـه پـه دبر وستـونـرو کلي ته را ورسـېدو ! اوس تـوبي باسم چي پـاکـه خـدایـه ! څـومـره رنګ زبري مي وکـړه دهر بي

دبن پـه وره کـي مـي ســوالـو ته وکـړل او غـلاګـاني مـي وکـړي خـو بـه دي نـه پوهـېدم چي زمـا ترکټ لاندي لوې خزاني دي زه ناپوهم - دبر ناپوه ! له هغي سـتري خزاني مـي هـم څـه خـبـرونـه لـېـد ، ماهغـه شـبـان نـه پـېـژندل او نه مي څه کار تري اخـېـستلاي شـو زه دبربې هتراوبي کـمـالـه یم ، ربښتـبا چي زه هـر څـه لـرم خـو پـو هـه نـه لـرم نو لـو بـه خـدابـه مـا وبـخـښـې ! زه دخپلي ناپوهي دلاسه دومره ګنا هګاریم هوزه دبـــرنـــا پـــوه یم !!

دبلبلو نغمې

سعدالله سعید «زابلی»

پاځی پــاځــی ای ملګر و سحر ګاه ده
تودی شپی په منـډه تلـلی سپن سباده
بقـــین وکـړی شـوه مو دا دعـــا قبوله
زخمی خیال باندی مو ناست ملهم دچاده
ژراګــــانـــی اوو بـــرونه چــبرته تللی
خدایږونن په هر دخوا بـانـدی خـنداده
داجوپی جـو پی سـیلو ته راستانه شول
د بـلـبلو دنـغـــمو جـــوړه بـلـو اده
بیدیاسیمه دوطـــن په ګــلوفرش شــوه
نو بهار مـــو دګلونو په ګیداده
سعید لیکمه داستان پـــه زریـــن کرښو
چی راغلی په وطن مو بیا ښکلا ده

داسی ځوانی پسی!

امیدوار - کړه وال

دزنی خال ته بی آسمان ستور و قمر وژړل
چی بی دمخ خـــو لـــوته پرخی دسحر وژړل
ګلاب دزړ ه په وینو سو رشو نرګس خوب وړی وو
مشرق ګر یوان کی ګوتی و اچــو لی لمر وژړل
بیابی دتوراوریل مـاښام پــه سپین تندی راخورشو
چی پـــه سلـــګو ورته زما خوار ما زیګر وژړل
وری ـ می دمینـــی جنازه عشق دارمان په اوږو
نه خـــپل پردی نه دوست آشنا او نه دلبر وژړل
ماوی واړه زاړه په ستـا دکوڅی راشی ورته
یـه مـــــا قـــرمـری نـــه ښځی اوته تر ډېرل
چی انګی پری ښکلو سره کړ شفق ډوب شو په کښی
داســـی ځوانی پسی په سروستر ګو سترګو وژړل
دخلـیلی عزم تد ببریت خانی رنګی کړلی
نمرودخو پـریـــږده په نــــارو سورو آذرو ژړل
دامیـــدوارپه هرغزل کښی دژرا توری دی
قلـــم کـــاغـذ ورته دشعر دیوان دفتر وژړل

دلونګو باران

شمس الله «خوستی»

دمینی خـــوشال خان ته چا اورنګ دی راوستلی
دخـــرواو بــوروډیـــی پـــه نهنګ دی راوستلی
دزړه په کرونده به مـــی نشـــی راز رغـونی کړی
مـــاهـــم ورته لبستـــی ځکه دبنګ دی راوستلی
دنتـــه پـــه سیـــنه کی مـــی ژواده غـریو نیولی
رقیب چه خپل اشناراته په جنـــګ دی راوستلی
زه وایمه چه ګوندی پسرلـــی پـــه نـــڅار اشی
دزړه رباب مـــی ځـــکه په آهنـــګ دی راوستلی
دیـــار پـــه نـــاکردوکی غـمـاز داسی زړور شو
چه سم یی له تفنګ ســره پر نـــګ دی راوستلی
چـــی شـــمه یـــی کـړه بله زه ترمخه پوهیدمه
اوس ګـــوره سوز پدوته یی پتنګ دی راوستلی
بی یاره به «خوستی » شمـــس الله جان په لونګ څه کړی
باران یی که « متون » ته دلـونګ دی راوستلی

خط زیر شعاع کارها ی ماشینی

خط! یکی از پدیده های ذوق انســـان واز جـــمله هنرهای زیبا به شما راست که در ارضای حس زیبا خواهی او سهیم وشریك می باشد . گـر چه اختــراعـات واکتـشافات گوناگون وکار ها ی ماشینی روز افزون ،دیگر صنایع ظریف را تحت الشعاع قرار داده وکثرت تنوع آنهـا اذ ها ن را بخود جلب کرده است ، مع الوصف هنر خو شنویــسی وخطاطی چیزی نیــست که ازبین برود و زیبائی وخوبی آن مورد تقدیر وتحسین قرار نگیرد زیرا متکی به حسن زیبا طلبی وذوق شیرین کار آدمی است واین ویژگی تا اعماق دل ریشه دارد وچون نهال بار و ر از شیره جان هنر وربرونق روز افزون خودادامه میدهد . هنر خوشنویسی آن هنر دقیق وظریف است که از یك سو همقدم با ذوق وعشق و ازسوی دیگردهگـاز دانش وخـرداست ،هنر مند با این دو درراه فـضلیت وکمال و درجات عالی انسانی گام میگذارد . هر که را دوقی ـ سد منکرحــسن آن ـسران سد ودر راه تعلیم وتعلم آن راغب وکوشا میگردد این بدان که برمبنای ذوق است بگذریم ، عقل به ما اعلام می کند که دست رنج دلپسند هزار ساله هنرمندان اسلامی راکه چنین لطیف وعزیز پرور انیده اند نباید ضایع ومحمل گذاشت ،وبه مدلول لاتبطلو اعما لکم حفظ نکردن وخط بطلان برآن کشیدن موافق عقل نیست .

والسلام

فرهاد سلیـــمان زاده ــــ خطاط مطابع امــارتی

رڼــهـــا

محمد رفیق «عزت»

داهغـه ســهـار وچی لمر ترخـپل ټاکلی وخت وراندی خپل ښایـسته او روښانه مخ راڅرګندکړ.
نه نه داهغه لمر نه و چی سهار به یی تول ښار روښانه کاوه.
داهغه روښنا یی وه چی څراغونه په کی ورک شول سپوږمی وروورو تتـه شـو ه او طبـیعی لمر هم په خـپل ټاکلی وخت چی دپاک الله «ج» په فرمان کی نا فـرمانی رانشی زړه نازړه خـپل سـرالو ړ کـړ دی ښکلی

رڼا نه یوازی چی خـپل چا پیـر یال رڼا کـړ ، بلکی دنړی دبری برخی یی له خپلی ښایسته رڼا څخه برخمنی او روښانه کړی .
هو! پدی کی هیڅ شک نشـتـه چی دی ښایـــسته رڼا خپلی زرینی وړانګی له کـوره ترکلی ، له کلی تر ښار و نو ، او له ښارونوتر هیـواد ونو پوری و غځولی . چی اوس هم الحمد الله ــ مـــسلمـــان وګـری ددغی روښانه رڼا پلوشو ته ژوند کوی .

په پښتو شعرکی مذهبی څرکونه

د ثبات لیکنه اوڅېړنه

۵

دشیخ تصالح محمد صالح په یوه غزل کی :
دلوی خدای ازلی او تقدیری قدرت لا یتناهی دی او دهغه په بدلون کی بنده په مطلق صورت بی وسه دی او له دی جملی نه دبنده ناروغی او روغتیا دالله تعالیٰ په ارادی پوری اړه لری .
په پښتو متلونوکی هم داحکم دډیرښی ځلا درلودونکی دی لکه چی وایی :
«چی نه کوی حبیب څه به وکاندی طبیب » (پټه خزانه ۱۰۲ مخ) دادی ددی پښتو مفهوم چی دمحمد صالح په یوه غزل کی داسی تلمیح شوی دی :
مګر الله چی حبیب دی هم طبیب دی
کارسازی کا دخوارانو رنځورانو

***

دربانی علی سرور په شعرکی :
دپټی خزانی په حواله په تحفه صالح کی هسی راوړی چی شیخ علی سرور شاهو خیل لودی وچی دهندوستان په ملتان کی دیره و او خاوند دکراماتو او خوا رقو چی خلکو به هر کله ورځنی لیدل .
شیخ به خپلو مریدانو ته هدایت کااو وعظونه او دسوالونو ځوابونه به یی ویل او دتصوف مشکلات به یی حل کول . (۱۰۲) مخ تر دی بحثه چی په پښتو شعرکی دمذهبی څرکونو په باب څه ولیکل شول ، ښیی څرګنده ده چی یادشوی شاعران عادی ذوات نه و هر یو عابد ، زاهد او دکراماتو درلود ونکی یو ولی شــخص و نو دهغــوی دخـصلت مطابق ښـایی چی ددوی په اشعاروکی د اسلام دمقدس دین پلوشی په ځلیدو وی .
ددوی په اشعاروکی مجازی عشق یو مســتعـار شکل درلود ځکه چی داعشق دحقیقی عشق دپاره یوه وسیله ګڼل کیدای شی دادی دشیخ علی سرور دیوه غزل مطلع دخپلی ادعادثبوت دپاره یو مثال را اخلو.وایی :
محبت پیاله می نوش کړه په مجاز کی
دحق نورویتم په سترګو دایازکی
چی په دی بیت کی دتلمیح دصنعت نه په استفادی سره دسلطان محمود غزنوی او دهغه دغلام ایاز تر منځه عشق ته اشاره شوی ده څه نه ویل شوی دی :
سلطان غزنوی که هزاران غلام داشت
عشق آنچنان ګرفت که غلام ،غلام شد
خاطره :
تردی ځایه دپټی خزانی دپخوانیو شاعرانو په تصوفی اشعاروکی داسلام دمقدس دین او مذهب پلوشی ښودل شوی اوس دپټی خزانی د معاصرو شاعرانو دشعرونو په فورمونوکی دهغوی هغومعناوو ته لاره وباسو چی دعرفانی وړانګو مفهوم پری افاده کیدای شی .
دملا پیر محمد میاجی په شعرکی ؛
دخلق الله دخدمت بیلګه :
دپټی خزانی په حواله ملا پیر محمد میاجی داسی معرفی شوی دی ملا پیرمحمد هوتک دملا سرور مغفور زوی دی چی ملا سرور له میا فقیر الله صاحب څخه استفاضه کړی وه او ملا پیر محمد له خپله پلاره فیض وموند .
... ملاپیر محمد خلق دخدای شریعت او دامام اعظم صاحب مذهب ته راپللی . میاجی صاحب په علم اخلاق کی یوکتاب کښلی دی چی « افضل الطرایق » یی نوم دی او په هغه کتاب کی دعقاید و او اخلاقو بیان کا .
بویل کتاب هم لرینه چی « القرایض فی رد الروافض » یی نوم دی ، او دخلق الله دخدمت په متعلق یکی لاندنی حکایت کښل شوی دی .
دلته دیادونی وړ ده چی دخدای دبندګانو خدمت دلوی خدای په نزد یو لوړ مقامی اومنلی عبادت دی چی په عرفانی او تصوفی رو اياتوکی یی زیات مثالونه لیدل کیدای شی چی دادی په لاندی حکایت کی ددغه عبادت عملی تصویر :
شیخ متی چی خلیلی و
دی له اره لوی ولی و
یوه ورځ روان په لارو
لوی ځښتن په استغفارو
پردی لاروی تیری ګنی
لاری مخکی وی په پتی
دبری شیبی راغی رویدار
چی یی صافه کړ له لار
یو دهقان به ابیاری کړه
شپه په شپه به یی خواری کړه
ده به لید په توره شپه
شیخ متی په زیار اخته
له داحقه به بیزار و
تول ه شپه به هم بیدار و
شیخ متی د هغه ملیار دیوښتو په خواب کی وویل :
داسی ووی شیخ متی
دمولا دعشق پتی
«چی خدمت دخلق الله
یو ګړی په یوه ساه
ترهرڅه بهتر دی وروره !
زده کړه داخبره ګوره »
(پټه خزانه ۱۳۲ ، ۱۳٤ مخونه)

پاتې لري

ترمیم سرک های هرات ، تورغوندی وهرات کندهار ادامه دارد

هرات:

کاراسفالت جاده های شهر هرات وترمیم شاهراه هرات تورغند ی وهرات کندهار به شدت ادامه دارد .

خبرنگار آژانس اطلاعاتی باختـر ازولایت هرات خبرداد .

اسفالت ریزی جاده های شهرهرات وترمیم شاهراه های هرات تورغندی وهرات کندهار که یکماه قبل توسط ریاست فواید عامه ولایت هرات آغاز گردیده بود تاکنون بطول یازده کیلو متر قیرریزی وترمیم گردیده که از جمله بطول دونیم کیلو متر داخل شهر هرات اسفالت وهشت ونیم کیلو متر شاهراه هرات تورغندی نیز آغاز گردیده است .

قراراست به طول بیست کیلو متر جاده درداخل شهر هرات نیز توسط ریاست فواید عامه وپروژ ، هرات قلعه نو اسفالت گردد.

دستگاه برق آبی ولایت سرپل ترمیم ومورد استفاده قرارگرفت

سرپل :

کارساختمان دستگاه برق آبی ساحه اسپ آباد ولایت سرپل که قبلاً آغاز گردیده بود خاتمه یافت ودستگاه متذکره به بهر ه برداری سپرده شد . خبر نگار آژانس اطلاعـاتی باختر ازولایت سرپل خبر داد: دستگاه متذکره که قدرت هفتصد وپنجا ، کیلو وات برق رادارد به اثر کـار وفعالیت انجنیران وکارگران ریاست برق ولایت سـرپل فعال گردیده که از انرژی آن موسسات امارت مساجد و منازل برخی ازشهـریان آن ولایت مستفید گردیدند .

په افغانستان کې دډبلیو ...

مـقـرراتوپه چوکـاټ کی دهغوی د فعالیتو نو ددوام په لاره کی ښی زمـینـی برابری کړیدی او په عـملی اقـدامـاتو یی لاس پوری کړیدی . لکه څنگه چی په دی وروستیو وختو کی یی دکابل په ښارکی دمستحقو کسانو او دغیـر مستحقو کسانو دسروی او تفکیک دستـونزی دحل کـولو په خـاطر دری عـملی طرحی وړاندی کړیدی . په لومړی گـام کی دی دمـسـتحـقـو کـسـانو سـروی دکـابل ښاروالی داحصائیی دمرکزی اداری او دډبیـلـو اف پـی موسسی داستازو په گډون دیو هیأت په واسطه تر سره شی . چی دغه سروی کیدای شی په آزاد ا نه ډول داړوند جـومـات لـه مـلاامـام دگذردوکیل او له سپین ږیرو څخه دمعلوماتو په ترلاسه کولو سره مستحق تشخیص اوټاکل شی اویا دډبلیو اف پی مـوسـسـه کـولی شی دگاونډ یو هیوادونو د ښځو دگومارلو له لاری دسروی سـتـونزه پایتـه ورسـوی. دریمـه لاره چی کـولی شی سـتـونزه حل کـړی دهغـو افغانی ښځو له لاری چی د عـامی روغـتـیـا وزارت په مربوطاتو کی په کار بوختی دی په مـحـدود وخت کی ترسـره شی . چی له هغـو څخـه په استـفـادی سره کیدای شی دهغو ١٤ زرو اړو کورنیو سروی چی پخوا دای سی آرسی کـمـیـتـی لخوا ورسره مرسته کیده او اوس ډبیلو اف پی ته سپـارل شـویده ترسـره شی . په بیـان کی ویل شویدی عمومی سروی له دغو طرحوڅخه مستثنی ده څکه په هغو خبروکی چی دپلان وزارت دمـشـرتابه هیـأت څـوځلی ددغی موسسی له استازو سره لرلی یادونه کړیده چی لومړی په مقدماتی سروی سره کولی شو دعمومی سروی ستونزه حل کړو څکه دسروی هدف د مـسـتـحـقـینو او غـیـر مستحقینو تشخیص دی او دا پداسی حـال کی دی چی د ډبلیو اف پی مسئولین موجه دلیل نلری سـره له دی هم په مـحـدود وخت کی دعـامی روغـتـیـا په وزارت کی دمحدود وموظفوښځو له لاری دمـقـدماتی سـروی په باب ددغی موسـسـی په نامه رسـمی لیک صـادر شـویدی چی تراوسـه پوری یی ځـواب نه دی ترلاسه شوی.

او موږ دهغوی ځواب ته سترگی په لاره یو دبیان په پای کی ټینگار شـویدی چی دپلان وزارت ددغی ستونزی دحل کـولو او دمـعـقـو لو او عـادلانه لارو چارو دلټـو لو په خاطر یو لړ عملی طرحی وړاندی کـړیدی چی له بده مـرغـه ددغی مـوسـسـی مسئولین په بیلابیلو پلمو او له حـقـیـقـت څـخـه دلری دریځونو په غوره کولو سره غـواړی دکـابل ښار نانوایی گانی دروان میـلادی کال دجون دمیاشتی تر١٥ نیتی پوری وتړی او دافـغـانـسـتـان مـظـلـوم خـلـک لـه زیـاتـو اقتصادی ستونزو اومشکلاتو سره مخامخ کړی او له دی لاری دافـغـانـسـتـان لـه خلکو سره دملگرو ملتود سازمان مرستی وځنډوی.

تـــوجــــه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

مجتمع ورزشی ...

هریك الحاج محمد باقر شیخ زاده و مـیـرعلی اصـغـر اکبرزاده مسوول مجتمع ، تریتر تیم ملی فـوتبـال ،سرتریتر کلپ ورزشی شعاع وریفری بین المللی دررابطه به زنده گی نامه شهید میرعلی اصغر «شعاع» وتاریخچه ایجادمجتمع ورزشی شعاع صحبت نمودند .

دراین محفل مسوولین کمیته ملی المپیك ،روسای کلپ های آزاد ورزشی ،جـمع کـثـیـری ازورزشکاران و عـلاقـمندان ورزش اشتراك داشتند .

محفل با نمایشات ورزش پهلوانی، بکسنگ وزیـبـایی اندام خاتمه یافت .

درمجتمع ورزشی شعاع، جوانان کشـور در بخـشـهـای فوتبال ، بوکس، زیبایی اندام ، تکواندو و اتلاتـیـك تحت تربیه قرار میگیرند .

دفیض آباد دهوایي ...

دښمنی ډکوفعـالیتونو په ترڅ کی یی ددغـه ولایت دمرکز فیض آباد هوایی ډگر کتلی او دهغه بشپړ جاج یی اخیستی دی .

دیـادونـی وړ ده چـی زمـوږ په گـران هیـوادکی دجگړی داوږدو ساتلو په مقصد دهند دهیواد له خوا دغو انجنیرانو ته دنده سپارل شوی چی دفیض آباد هوایی ډگر ترمیم او دالو تنو لپاره یی چمتوکړ ی . دغه راز پـه نـږدی ورځـــــوکـی دتاجکـسـتـان دکـولاب له هوایی ډگـرنه څـوالوتکی دافـغـانـسـتـان لـه پولی رااوښتی او دفیض آباد په هوایی ډگر کی راکوزی شوی دی چی دازموږ دهیـواد په کورنیو چـــاروکی ددغو هیـواد و نو دڅـــرگندی مــداخلی او لاس وهـنی ښکاره ثبوت دی .

دجنوبی افریقی ...

داســلامی امــارت او دمـخـالـفـینو دتحـرکـاتو دڅـرنگوالی په اړوند یو لړپوښتنی طرحه کړی چی داطلاعاتو او کلتور محترم وزیر دهیـــواد په زیاترو سیمـوکی داسلامی امارت واکمنی او څواکمنی ته په اشاری سره مخا لفین چی په سلوکی سل یی دلاسوهو تکو هیوادونو لخوا ملاتړکیږی او دوسلو مرستی ورسره کیږی دزوال او پو پنا ه کـیـدو په حال کی وبلل او دمخالفینو وروسـتی تحـرکـات چی له ماتی سره مخامخ دی دهغوی دنه پرمـخـتـگ او دزیاتی کمزروتیا څرگنده بیلگه وبلله .

سرک پغمان ...

مصرف یکصدو پنجاه ملیون افغانی به طول سی کیلو متر از ولسوالی پغمان ولایت کابل الی ولسوالی سرخ پارسا ولایت پروان ترمیم ومورداستـفـاده ترافیك قرارگرفتـه است درکارترمیم این سرك به تعداد یکهزار نفر طور داوطبانه مصروف فعالیت بودند که اعاشه آنها از سوی امارت اسلامی پرداخته میشد .

انجا که دوا ...

خبر نگار ما در زمینه گزارش میدهد :

تقـریبـاً ٤٨٠ تن از کارگران فنی ومتخصص وزارت آب وبرق با قبول مشکلات فراوان شب وروز درحوزه تولید برق که شامل فـابریکات برق مـاهیـپـر ، نغلو ،سروبی میشود مصروف خدمات قـابل مـلاحظه درجهت تامین برق برای شـهـروندان کـابل اند ، این کـارگران کـه از دیرزمـانی عـمـر عزیرشان را وقف خدمت به دیگران نموده اند متـاسـفـانه همین حـالا دچارمـــشـکلات زیادی بویژه مـشـکلات صـحی می باشند و با وصـف اینـکـه وزارت آب وبـرق ازطی ١٥ سـال بدینسو درتشکیل خویش یك کلینیك صحی مجهز داشته، مگر بااین هم قادرنبوده تا وقتـاً فوقتـاً از مشکلات صحی کارگران حوزه تولید برق کـابل وارسی همه جانبه نماید .

محترم دوکتور محمد عثمان «سلطانزی » مـــسوول کلینیك صـحی وزارت آب وبرق درزمـینه مـیگوید : اگـر دراختـیـار این کلینیك دوای کافی قرارداده شود . کلینیك ما میتواند همه وقته جوابگوی نیـازمندی های صحی کـارگران حوزه تولیـد برق کابل باشد ، چراکه این کلینیك با امکانات خیلی محدود خویش پیوسته تحت توجه مقام وزارت آب وبرق بخصوص شخص وزیر صاحب ، معـینان وزارت وریاست اداری قرار داشته وآنان دریك مساعی مشترك که چگونه واز کجا میتوان این کلینیك را تقویه نمود تلاش مینمایند .

البته این درحالیست که درفاصله ٣-٤ ماه یکبار کلینیك ما از طرف سازمان صحی جهان (W.H.O) ویا بخش صحی سره میاشت کمك میگردد و ادویه کمکی که به ما صورت میگیرد الی یك ماه ختم شده ومریضان ما ٢-٣ ماه دیگر باز هم به قلت ادویه مـواجـه میمانند .

محـتـرم «سلطانزی» اضافه داشت : درمواقع که دراختـیـاراین کلینیك ادویه قراردارد ما روزانه ٢٠-٢٥ مریض را معاینه نموده وادویه لازم برای شان توزیع مینمائیم .

علی الرغم اینکه این کلینیك درفاصله ٣-٤ ماه یکبار به کمك W.H.O ویا ریاست سره میـاشت اکمـال میگردد . اما این کمك ها آنقدر قابل ملاحظه نیست که ما بتوانیم نیازمندی های صحی کارگران وکـارمندان مـحلی وزارت رادر شهرکابل جوابگوباشیم چه رسد به اینکه مـا به کـمك کـارگـران فـابریکات بندهای برق مـاهیـپر ، سروبی ونغلو برسیم .

وی یگانه راه بیرون رفت از این مـــشکل راجلب کــــمك های بیـشـتـرصـحی (ادویه) ازجـانب موســات خیریه غیر حکومتی (NGo) بطور خاص W.H.O ، اداره سره میاشت ، خدمات طبی جاپان - افـغـانـسـتـان یا PMS موسـسه انسـانی و فا و ... به جانب این کلینیك تلقی نمود

مهربان

ازمساعدت شیخ ...

محترم گلاجان «عابد » سرپرست سفارت عربستان سعود ی در کابل خبرداد : اخیراً محترم شیخ ابراهیم «سلومی » مـــسوول هلال احمـر عربستان سعودی درامور افغانستان که بنابر دعوت هلال احمر افغانی به کـابل آمده بود ، وی ضمن سفر دو روزه خـویش مبلغ ١٥٠ ملیون افغانی پول نقد مساعدت هلال احمر عربـسـتـان سعـودی را برای ٨٠٠ خـانواده درنواحی هفـتم ، هشـتم ودهم شهرکابل توزیع نمود .

موصـوف وعـده داده است که درآیـنـده نـزدیـك بـه سـلـسـلـه مـسـاعدت همیـشگی خـویش برای مردم افغانستان اینبار کمك قابل مـلاحظه را به جـانب هلال احـمـر افغانی خواهد داشت .

فلسطینیان حایلی سیمی نه غواړی

بهرنی منابع :

ویل کیږی چی اسرائیلو داوږند نیمگړ ی مرسـتـه کـړیده چی هدف یی داتو میاشتو دنشدد دختمولو هڅه ده .

داسرائیلو یوه لوړ رتبه چارواکی ویلی دځـینـو نیمگړ تیاوو باوجود حکومت دی پلان ته مثبت ځواب ویلی چی دامـریکی دمـرکـزی استخباراتی اداری یا سی آی ای مشرجورج تینت تیار کړیدی .

فلسطینیانو ویلی دوی هم دپلان مـشـروطه منظوری ورکـړیده خـو فلسطینیانو ددوی په وینا دحایلی سیمی دجوړیدو ، داوږکو دنیولو او فلسطینی سیموته دتگ دبندیز لری کولو غوښتنی رد کړیدی .

دفلسطینیانو یو ه جگ پوړی چارواکی خبریالانوته وویل دوی هم دفلسطینیانو دکنتـرول لاندی سیـمـو گـردچاپیـر څـایـو نه داســرائیلی څـواکـونو دایستلو له پاره واضـحـه نیـتـه غـواړی.

انعام ملکی اعطا به بوریس یلسین

ولادیمیرپوتین رئیس جمهور روسیه به سلفش بوریس یلتسین احترام کرد وبه او والاترین انعام ملکی را اعطا کرده است پوتین نشان درجه اول خدمت به مادر وطن را دیروز سه شنبه طی مراسمی به مناسبت دهمین سالگرد حاکمیت روسیه به یلتسین اعطا کرد .

سال های اخیر حکومت . یلتسین تحت شعاع مریضی وشکست کشورش درجنگها ی ١٩٩٤ و١٩٩٦ درچیچنیا قرار گرفت معه هذا عامل گسترش آزادی های دموکراتیك طی تقریباً یك دهه حکومتش شناخته میشود .

له پاکستاني هئیت ...

دپاکـسـتـان داسلامی جمهوریت دکـورنیـو چارو دوزیرانو دلیـدنو کـتنو او خبـرو اترو په دوام وشـو دافغـانی مهاجرینو دستـونزو او مشکلاتو دسوداگرو دمشکلاتو او دهغوی دترانزیتی مالونواو دځینو نورو مـــسـالو په باب خـبـری اتری وشوی دوا ړو لورو هیله څرگنده کړه چی داسلامی اخوت او تفاهم په فضا کی په ستونزو باندی بریالی شی او داړیکو په لازیات ټینگښت سره ددواړو اسلامی هیوادونو ترمنځ دوستانه مناسبات لازیاته پراختیا ومومی .

دغزني ولایت ...

والی محترم ملا دوست محمد آخند سره له کتنی وروسته په دغه ولایت کی دبریښنا رسولو تاسیسات وکتل . او ددغی کتنی په بهیر کی یی دغـزنی ولایت داوبو او بریښنا ریاست دچارواکـو او مـوظفـینو دهڅواوهاند او کاری فعالیتونو له امله قـدردانی وکـړه او دهغوی پاملرنه یی دچارو لازیات ښه والی او دخلکو خدمت ته واړوله .

مجله قضا با ...

حکم ودوفـرمـان عـالیـقـدر امیرالمؤمنین می باشد برعلاوه معـرفی قـاضی القـضـات ومعاونین ستره محکمه اخبار وگزارشا ت مربوط ، مضامین پرمحتوی قضایی ، فقهی ، قانونی وعلمی به نشر رسیده است . علاقمندان می توانند مجله متذکره را از ریاست نشرات ستره محکمه وکتاب فروشی های شهر بدست آورده ازمطالب ومندرجات آن مـسـتـفـیـد شـوند .

کابل ښاروال

او لگښتی مواد و او مالو نودبیو دټینگښت په کار کی داصنافـو او دگذردوکیلانو وجـیـبی اومسؤلیتونه جوت کړل او دښـار دپاکـوالی او دچاپیریال دروغتیا ساتنی په لاره کی یی دهغوی ژوره پاملرنه واړوله .

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq